څیړنوال حبیب الله رفیع ۲۰۱۷/۱۱/۱۵

د سیال کاکړ علمي او ادبي خدمتونه

پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ په ۱۹۳۵ عیسوي کال د جنوبي پښتونخوا د پښین د سرانانو په کلي کې له ارواښاد عبدالرحمن خان کاکړ کره زیږېدلی، په پښتو، اردو او فارسي کې یې لوړې زده کړې کړي او کلونه، کلونه د ځوان نسل په روزلو بوخت پاتې شوی، د کالجونو استادي یې کړې او ډېر وخت د کوټې په پوهنتون کې د پښتو څانګې مشر او استاد ؤ .

پردې سر بیره پیاوړی فولکلوریست، پوخ لیکوال، حساس شاعر او د خپلې مورنۍ ژبې پښتو لوی خدمتګار دی .

له ده سره په ۱۹۹۶ ع کال کې پنډۍ پښتو ادبي جرګې یو دروند ماښامی کړی ؤ چې پوهانو او عالمانو د ده پر خدمتونو رڼا پکې واچوله، زه هم دده د یوه دوست په توګه دې محفل ته ورغوښتل شوی وم چې د خپلې لیکنې په ترڅ کې مې دده پر کارونو یو ځغلند نظر وکړاو داده دا وینا له تاسو سره شریکړم :

زه که نن جسماً ستاسو په دې درنه غونډه او ستاسو درنو دوستانو په درانه حضور کې ولاړ یم خو فکراً او روحاً ډېرې لرې زماني او ډېرو لیرې وختونو ته تللی یم، پنځه ویشت کاله پخوا زماني او هغه وخت ته چې زه په خپل ازاد او ارام هېواد کې وم، د ملګرو او دوستانو سره د هېواد په علمي ادارو کې د ادب او کلتور په لاره کې په هلو ځلو بوخت وم، همدا وخت زما د دوستانو په لست کې یو نوی نوم زیات شو او همدا وخت مې له یوه ځوان پښتون محقق، پښتون ادیب او پښتون سیال سره پېژندګلوي وشوه .

زما د ذهن فلم څرخونه خوري، د پنځه ویشت کلونو پخوا صحنې راته ښیي او دا دي په دې صحنو کې یوه داسې ورځ هم وه چې زه د افغانستان په تاریخ ټولنه کې په خپل دفتر کې ناست وم، له پښتو ټولنې نه تلیفون راغی او راته ویې ویل: له کوټې نه ستاسې په نامه څو کتابونه راغلي، راشه وایې خله! زه بې له ځنډه ور روان شوم، د تاریخ ټولنې او پښتو ټولنې تر منځ فاصله زیاته وه خو د کتابونو غږ راته لنډه کړه او چټکو ګامونو ډېر ژر هلته ورسولم، څه ګورم چې په یو ځلي څلور ټوکه پښتو کتابونه چې په خاص ذوق چاپ شوي وو، راوسپارل شول، د څلور واړو مؤلف ولي محمد خان سیال کاکړ ؤ، څلور واړه کتابونه د پښتني فولکلور وو او له کتابونو سره یو له مینې ډک لیک، لیک مې ولوست، بیا بیا مې ولوست، په لیک کې د بیګانګۍ او نااشنایۍ خبره نه وه، داسې لیک ؤ لکه د عمرونو چې سره پېژنو او په وار وار مو سره ناسته پاسته شوې وي، په لیک کې د پېژند ګلوۍ ریبار زما د خلکو سندرې کتاب یاد شوی ؤ چې ما په هم هغه کال په کابل کې چاپ کړی ؤ او ده ته په هم هغه کال چې بشپړ لانه ؤ چاپ شوی او د نیمایي متن نمونه یې راوتلی وه رسېدلی ؤ، په حقیقت کې زما او د ده اشنایي همدې کتاب مخکې له مخکې پخه کړې وه، ځکه زما د خلکو سندرې هم د پښتني فولکور او اولسي ادب په باب وې او دده رالېږلي کتابونه: غاړې، پښتني افکار، سپیځلي ګاښونه او چغیلان هم د پښتني فولکلور او اولسي ادب ورکې خزانې وې او هم دې مسلکي او ذوقي یووالي دواړه ترلیدو وړاندې سره نژدې کړي، خواږه کړي او دوستان کړي وو او همدا سره لنډ زړونه وو چې د دواړو د ورونو جوړېدلو لاره یې هواروله .

د سیال صاحب کتابونه او لیک غالباً د ۱۹۷۱کال په لومړیو شپو ورځو کې راته راورسېدل او ما هم ډېر ژر سیالي ورسره وکړه او منلیک او کتابونه مې ورولېږل، پوره دوه کاله مو غیابي، کتابي او مکتوبي دوستۍ دوام وکړ او د زړونو او فکرونو نژدېوالی مو مکاني فاصله له منځه یوړه، د ۱۹۷۳ کال پیل ؤ، په کابل کې نوی ژمی پیل شوی ؤ، واوره اورېدلی وه، زه له هر ورځني عادت سره سم مازیګر مال پښتون کتاب پلورنځی ته روان وم چې زما ملګري برهان غږ را باندې وکړ، مخ مې ورواړاوه یو بل تن هم ورسره ؤ، غیږې مو سره ورکړې او د پېژندګلوۍ حاجت ځکه پاتې نه شو چې ما په تصویرونو کې لیدلی ؤ، په زړه کې مې ناست ؤ او په دې توګه مې لومړنی حضوري ملاقات له سیال صاحب سره د ۱۹۷۳ع کال په جنورۍ کې وشو، سیال صاحب همت درلود ددې ملاقاتونو ویاړ یې کال په کال راوباخښه او د ۱۹۷۴ع کال ۱۹۷۵ع کال او ۱۹۷۶ ع کال په ژمیوکې هم کابل ته راغی، د لارې ستونځې او د کابل د ژمي یخنۍ یې وګاللې خو خپله سیالي یې پوره او د مینې تړون یې لا پیاوړی کړ، د ۱۹۷۷ ع کال په ژمي کې دده پر ځای زه او ښاغلی زلمی هېواد مل کوټې ته ورغلو او د کلنۍ لیدنې سنت مو پر ځای کړ، په ۱۹۷۸ ع کال دوی بیا کابل ته تشریف راووړ خو دا وخت د افغانستان ځمکه ورو ورو سره کېدله او حالات تاوجن

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

کېدل څو جې په ۱۹۷۹ ع کال کې زه او ښاغلی هېواد مل له مجبوریته له هېواده راووتلو او یو ځل بیا مو له خپل سیال سره لیده- کاته وشول، د ۱۹۸۰، ۸۱ او ۸۲ کلونه مو بې لیدلو تېر شول خو په ۱۹۸۲ ع کال کې زه د خپلو ماشومانو سره پېښور ته راغلم، د ۸۳ کال له اوړي نه مې ځان ته کوچیانی پروګرام جوړ کړ، د دوبي ګرمي به مې د خپلو ماشومانو په ملتیا له دوی سره تېروله او ژمي به په پېښور کې وم، دوی به هم کله ناکله پېښور ته پېښه راوکړه او خصوصاً د پښتو اکیډمی له خوا د باړه ګلی سیمینارونو زموږ د مړي ګېډې مجلسونو له پاره ښه زمینه برابروله . دا دوه کاله کیږي چې ما او سیال صاحب سره ونه لیدلای شول، دی ناروغه ؤ ماته هم ناروغی پېښه وه خو :

چې پخه شي اشنایي
ترمنځ ووزي جدایي

نور زموږ په دوستی د مکان او زمان فاصلې اغیز نه شي لرلای دا ځکه چې :

مـــوږ د مینې داسې یـــو مقام تـــه رسېدلي یو
نـوري پوړی نـشته ښکاري بام تـــه رسېدلي یو

د مینې سفر د دوارو زړونه سره لنډ کړل او دواړه یې سره نه بیلېدونکي ورونه کړو .
زما د ذهن په فلم کې زما او د پوهاند سیال کاکړ د دوستی ځلکونه مې ستاسې مخې ته وړاندې کړل او وروستی ځلک یې دا دی چې دا دې پوره پنځه ویشت کاله وروسته بیا هم د جنوری په میاشت کې زه د سیال صاحب د بیا لیدلو ویاړ لرم او له تاسې ټولو سره یو ځای ور سره یم او دده د علمي او ادبي خدماتو ستاینه کوو .
ما د سیال صاحب د علمي او ادبي خدمتونو یاد وکړ، تر اوسه خوم مې تاسو ته شخصي خبرې کړې او تاسې به ویلي وي چې موږ څه پرې وکړو چې تاسې سره لیدلي یا نه دي لیدلي او تاسې به خوا مخوا دا غواړئ چې سیال صاحب څه کړي چې پر تا هم ګران دی او موږ یې هم دلته درناوی او لمانځنه کوو .
رښتیا خبره همدا ده چې سیال صاحب ځکه د حساسو پښتنو د زړه سر اود سترګو تور دی چې دی د خپلې پښتو مجنون دی، د خپل کلتور عاشق دی او د خپل ولس مین دی، ده دا مینه تش په خوله نه ده کړې بلکه عملاً یې کړې، په دې لاره کې یې خپلې د زړه وینې وچې کړې او په دې لاره کې یې مادي او معنوي ځان ښندنه کړې ده .
د سیال صاحب خدمت د پښتني کلتور او په خاصه توګه د پښتني فولکلور په برخه کې ډېر دروند او وزین دی، دومره دروند او وزین چې بل پښتون لیکوال یې فکر نه کوم چې د سیالی جوګه شي او فکر کوم ده په دې لاره کې تر اروابناد استاد محمد ګل نوري وروسته دوهم ریکارډ ټینګ کړی او ګڼ فولکلوري اصناف یې په خورا خواریو راغونډ کړي، په پوره ذوق او مینه یې څېړنه پرې کړې، په کتابي بڼه یې خپاره کړي او پښتنو ته وړپېژندلي دي .
د تمدن له کاروان نه د وروسته پاتې ټولنو فولکلور ډېر غني وي، پښتني ټولنه هم همداسې یوه ټولنه ده ، له نړیوال تمدن نه ډېره وروسته ده خو خپل ځانګړی تمدن یې لرغونی او کلتور یې ډېر زیات انساني او ژور دی، فولکلور د همدې کلتور یوه برخه ده چې په پښتني ټولنه کې ژوري ریښې لري، ددې فولکلور یوه ډېره لویه برخه اولسي ادبیات او سندرې دي او وریسې دودونه، رواجونه، لباسونه، لوښي او د ژوند ګڼ نور مظاهر خپله خاصه فولکلوري څېره لري چې تر شا یې عقاید او اساطیر ولاړ دي او خپلې پښتني ځانګړنې په کې نغښتې دي .
ښاغلی سیال کاکړ هم د همدې کلتور په وېره غیږه کې رالوی شوی ، د کلیوالی ژوند په پاک او صفا جاپیریال کې یې خاړ پوځې کړي او همدلته یې خپل ښی او کیڼ لاس پېژندلی دی، همهغه ؤ چې کله د علم په خوږو موږ شو نو د خپل کلتور او فولکلور غناته هم متوجه شو او د خپل کلتور خدمت یې تر بل هر علمي خدمته ښه وګاڼه او د پښتني فولکلور د بېلابېلو برخو په راغونډولو، څېړلو او خپرولو بوخت شو، په دې برخه کې داسې نا اشنا مرغلرې هم په لاس ورغلې چې تر ده وړاندې څوک پرې پېښ شوي نه وو او تر ده وړاندې د چا پام نه ؤ وراوښتی. ده په همهغه لومړي وخت کې چې د اولسي ادب کاکړی غاړې، پښتو متلونه او کېسې د «غاړی» «سپیڅلي ګایونه» او «پښتني افکار»، په نامه را غونډول، ورسره د «چغیان»په یوه نوي صنف هم پېښ شو او دا هغه تراژېدی او انتقادي سندرې وې چې کاکړې ناوې یې د خپل ودوزن په ورځ د ژړا په ترڅ کې وایي او د ولور اخیستو او لور خرڅونې په غیر انساني دود په واز کومې تنقید کوي، همدا راز په خپل «پښتني فولکلور » کې یې ډېر نوي اصناف پښتنو ته وروپېژندل، په «مزارات» کې یې د کاکړستان د سیمې هغه زیار تونه معرفي کړل چې د اولس خلک ځانګړې عقېدې ورته لري او خپلې زیاتې هیلې او امیدونه پرې تړي. «فولکلوري طب» د هغو بوټو، داروګانو او ورسره د خلکو د انګیرنو په باب دی چې زرګونه کلونه یې د پښتنو رنځورانو د ښه کېدو په هیله ګېلاسونه او لاسونه ډک کړي او د پښتني ټولنې روغتیا یې بهیر یې پرمخ بېولی دی. د «پښتو مترادفات» او د «کوچنیانو ژبه» یې د فولکلوري میراث ژبني اړخونه خوندي کوي، «فولکلوري سندرې» یې د پښتو داسې اولسي اصناف را پېژني چې لومړی ځل همده پېژندلي او هم دی پرې پېښ شوی دی. «فولکلوري سوغات» او «فولکلوری جواهر» یې د پښتنو د اتڼ خوږې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ناري او دواده د ښادۍ خوږي او ترخي سندري په خپله غېږه کې لري، «کاکړی» او «انګی» يې د کاکړي غاړو او د کاکړي ناويو د ادبي ژړا نوري او تر پخوا زياتې او متنوعې نمونې موږ ته رارسوي او «د کوچنيانو ادب» يې د ماشومانو ځانګړي سندري او سندريز تخليقونه راته اوروي .
»پښتني نومونه» د سيال صاحب يو وړوکی خو دومره مهم اثر دی چې ډېر کسان يې د لور يا زوی د پيدا کيدو په وخت پوښتنه کوي او خپل نوي ماشوم ته ښکلی او موزون نوم پکې لټول غواړي،« ترينو» يې د پښتو د يوې داسې زړې لهجې په باب څېړنه ده چې اوس د يوې ځانګړې ژبې حيثيت او خاص ګرامري اړخونه لري او «څلګرو» يې چې لا چاپ شوې نه ده همدا زيار پسې بشپړوي، همدا راز «کاکړي» يې د کاکړو د لهجې د ځانګړنو په باب ځانګړې څېړنه ده. «ملي ادب» يې د پښتني متلونه بله مجموعه او «پښتو نکلونه» يې د پښتو اولسي کيسو يو ګټور او ارزښتمن کتاب دی .
سيال صاحب د پښتني فولکلور د نورو اړخونو، ښاخونو او ډولونو په باب نور زيارونه هم کړي او ډېر اصناف يې را غونډ کړي چې په چاپېدلو سره به يې د پښتني فولکلور ډېره نوره قيمتي پانګه خوندي او تل پاتې شي .
د سيال صاحب د فولکلوري راغونډونو او څېړنو پله ډېره درنه ده خو ددې معنی دا نه ده چې دی تش فولکلوريسټ دی بلکی په دې سربېره دی ښه ادبي محقق هم دی، تذکره نګار هم دی او مقاله نګار هم، «د کسي د لمنې پښتانه ليکوال» دده يوه درنه تذکره ده چې دوه ټوکه يې چاپ شوي او يو بل ټوک يې چاپ ته تيار دی، دا تذکره د سهيلي پښتونخوا د زړو او ځوانو شاعرانو، اديبانو او ليکوالانو تار تاريزه او مشرحه انتقادي پېژندګلوي لري .
»ادبي څېړې» دده يوه بله ابتکاري تذکره ده چې زه ورته ژوندۍ تذکره وايم، دا د ختيزي، سهيليزي او لويديزې پښتونخوا د ګڼو ليکوالو او اديبانو د تصويرونو البم دی چې په ډېره خوارۍ يې سره راغونډ کړي او په يوه ځمکه خوندي کړي دي، ددې کوچني خو درانه اثر په ارزښت سړی هغه وخت پوهېدلای شي چې د يو چا خوندور اثر ولولي او بيا يې ليونۍ تلوسه پيدا شي چې څېره يې ووينې نو څېره يې درباندې وينې، يا هم کله چا ته د کوم اديب يا ليکوال د تصوير چاپولو ضرورت پېش شي دا مجموعه ښه مرسته ورسره کولای شي.«منظومه تذکره» هم دده ددې لړۍ يوه بله کړۍ ده چې په هغې کې هم د پښتونخوا د ګڼو اديبانو او شاعرانو ذکر دی چې ځينې يې په يوه- يوه کړۍ او ځينې يې په يوه- يوه بيت کې راغلي دي .
»د کسي د لمنې پښتو ژورناليزم» يې د سهيلي پښتونخوا په صحافتي فعاليتونو رڼا اچوي او د «پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې» دوه ټوکيز کتاب يې د سهيلي پښتونخوا اوسېدونکي قومونه او د دوی کلتوري ميراثونه څېړي، په همدې لړ کې سيال صاحب ځينې نورې څېړنې لکه« د پښتو اوسنۍ تذکرې» او نور هم لري چې د چاپ په انتظار دي .
سيال صاحب شاعري هم کوي لومړی يې شاعري هم په اولسي رنګ، رنګ وه خو بيا يې ډېر ژر ملي رنګ او غورځنګ بيا موند او د پښتو له ملي نظره يې د پښتو ژوند او سياست ته وکتل، ځينې دوستان له فني او تخنيکي اړخه د سيال صاحب په شاعرۍ انتقاد لري خو حقيقت دا دی چې سيال صاحب شاعري د پښتو د ملي اهدافو او ملي غوښتنو له پاره وقف کړي او د ادب تر اړخ نه يې د هدف اړخ ته ډېر څارو او متوجه دی.«ګراني مرغلرې، پښتني جام، ملي دردونه، غورځنګ او سنګر» يې د ملي شاعرۍ مجموعې دي .
محترم سيال صاحب په ګڼو ادبي او ملي موضوعاتو تعريفي، تعارفي او تنقيدي مقالې هم ليکلې چې وخت په وخت خپرې شوي، يوه برخه يې ده په« ادبي انځور» کې په کتابي بڼه خپرې کړې او بله برخه يې د «زرين انځور» په نامه ده .
په دې ترتيب سيال صاحب پښتو ته درنه ادبي او کلتوري پانګه ورکړې چې تر هر څه يې فولکلوري راغونډونې زياتې او دده تر نورو کارو يې ونډه در نه ده چې د ده د آثارو تر نيمايي زياته برخه تشکيلوي. غاړې، پښتني افکار، سپيڅلي ګايونه، چغيان، پښتني فولکلور، کاکړۍ، ملي ادب، مزارات، پښتني نومونه، فولکلوري طب، فولکلوري سندرې، فولکلوري جواهر، فولکلوري سوغات، د کوچنيانو ادب، پښتو نکلونه او انګۍ يې پوره فولکلوري آثار دي. ترينو، پښتو مترادفات او د کوچنيانو ژبه يې د ژبڅېړنې په رنګ رنګ شوي فولکلوري آثار دي، پښتو او پښتانه په سهيلي پشتونخوا کې لومړی ټوک يې د تاريخ په رنګ رنګ شوی فولکلوري اثر دی .
»د کسي د لمنې پښتانه ليکوال (دوه ټوکه) «د کسي د لمنې پښتو ژورناليزم، پښتو او پښتانه په سهيلي پشتونخوا کې» (دوهم ټوک) او «ادبي انځور» يې اجتماعي او ادبي څېړنې دي،«ګراني ملغلرې، پښتي جام، ملي دردونه، منظومه تذکره، غورځنګ او سنګر يې د شعر مجموعې دي او ادبي څېړې يې يو ښکلی ادبي البم .
د ټولو چاپ شويو آثارو شمېره يې (۲۳) ټوکه ده او همدومره يې لا قلمي دي او د چاپ انتظار باسي .
تردې ځايه مو د سيال صاحب د فولکلور په را ټولولو او خپرولو او د نورو آثارو په ليکلو او خپرولو خبرې وکړې خو اوس دده له ذوق او له پښتو سره د مينې او علاقې يوه بل اړخ ته رسېږو او هغه د پښتو خورو ورو نسخو راغونډول او خوندي کول دي. سيال صاحب چې د استادۍ له لارې څه پيسې ګټلې هغه يې د کتابونو په خپرولو لګولې خو لکه څومره پيسې يې چې د کتابونو په خپرولو لګولې همدومره يې د پښتو نسخو په رانيولو هم لګولې دي، ده چې په بازار کې د پښتو کومه نسخه ليدلې که بشپړه ده يا نيمګړې، که ښه ده يا خرابه صرفه يې نه ده پرې کړې او کتاب پلورونکو چې هر څومره پيسې ترې غوښتې همدومره پيسې يې ورکړې دي .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه شاهد یم چې یوه ورځ د پښتو یوه وړکی نسخه چې (۶۰) یا اویا پاڼې یې درلودې یو کتاب فروش په غیاب کې په نهه سوه روپۍ ورته بیه کړه چې هغه وخت ډېره لوړه بیه وه خو ده پیسې نغدې ورکړې او کتاب فروش ته یې وویل چې نسخه د سبا پر ځای همدا نن له کوره ورته راوړي او کله یې چې نسخه ترلاسه کړه نو ټوله شپه یې له خوښۍ نه خوب ورته و نه کړ او جالبه دا ده چې کله به نسخه لاس ته ورنغله هم نو تر سهاره به یې خوب بې خونده ؤ .
ده په داسې تلوسه، مینه، لګښت او زیار د پښتو تر درې سوه ټوکه زیاتې نسخې راغونډې کړې چې قیمتي دیوانونه، مجموعې او آثار پکې دي او داسې نسخې هم پکې زیاتې دي چې د کتاب شناسۍ په اصطلاح منحصر بفرد دي او همدا یوازینۍ نسخه یې چې له دوی سره ده، په لاس کې ده .
دا دومره لوی خدمت دی چې تر اوسه بل پښتانه لیکوال او محقق په یوازې ځآن نه دی کړی اوکه سیال صاحب په خپل وار دا کار نه وی کړي اوس به دا نسخې هم همداسې شوې شوې او له منځه تللې وای لکه له زرګونو نسخو سره چې دا کار شوی دی. سیال صاحب دا نسخې ټولې لوستې هم دي، د هغو خصوصیات اوارزښتونه یې هم یاد دابښت کړي او «د پښتو نسخې» په نامه یې مفصله بېلیو ګرافي پرې لیکلې چې دده د تألیفاتو په لړۍ کې به انشاءالله چاپېږي او پښتانه به پرې خبرېږي چې سیال صاحب ددوی څومره لویه کلتوري پانګه له بربادۍ او فنا څخه خوندي کړې ده.
د سیال صاحب پر دوستي، دده پر آثارو او دده پر خدماتو لنډ – لنډو غږیدم، اوس غواړم چې دده د شخصیت پر ځینې اړخونو هم ډېر لنډ و غږیږم .
سیال صاحب پاک زړی او سپین زړی انسان دی، خوله او زړه یې سره یو دي او له مقابل لوري نه هم اخلاص او زړه پاکې غواړي، هر چا ته په مینه زړه ورورې، خو له مقابل لوري نه هم اخلاص او زړه پاکې غواړي، هر چا ته په مینه زړه ور وړي، خو که له بل لوري نه چاړه وخوري نو بیا منافقانه تحمل نه لري او په تظاهر یې مقابله نه کوي بلکه کسات اخلي او هغه چا ته دبیا زړه ور وړلو اقدام نه کوي او نه ورسره د زمانه سازۍ یاري کوي، د سهیلي پښتونخوا یو شمېر لیکوالان ګیلې ترې لري خو ما چې له ده نه پوښتېدلي هر یو لومړی پرده ملامت شوی او بیا یې ده خیال نه دی ساتلی .
د علم په خورولو کې سخي دی ځکه ټول عمر یې په استادۍ کې تېر شوی او ګڼ شمېر ځوانان یې رسولي دي. خو چا ته د کتاب په ورکولو کې ډېر سخت دی، ددې علت هم ښایي دا وي چې اوس خلک بد معامله شوي دي، په خوله درنه غوښتې کتاب پسې به په پښو ورځي او ترې راوړې به یې ، خو کله کله پرې خوله هم پټېږي او د بیا ورکولو نیت یې نه لري، فکر کوم چې په دې برخه کې یې تر ترخو تجربو وروسته چا ته د کتاب په ورکولو بندیز لګولی وي .
دی له کتابونو سره هسې هم مینه لري، د هر راز کتاب ساتل یې خوښېږي که څه هم لولي یوازې د خپلې خوښې او خپل ذوق کتابونه خو نور کتابونه هم ورته انبارونه پراته دي، تر دې چې خپل چاپ کړي کتابونه یې هم پېټۍ پېټۍ په کور کې ایښي، نه یې کتاب پلورونکو ته د خرڅ د پاره ورکوي او نه کتاب لوستونکیو ته د لوست لپاره، همدا راز د نورو کتابونو هم دوې درې او ان تر دې زیاتې تکراري نسخې ورسره شته خو له ځانه یې بېلېدل نه غواړی او دا له کتاب سره دده د لیونۍ مینې ثبوت دی خو له هر څه سره سره ماته کتابونه راکوي او حتی د کلونو کلونو په مخه .
په خپل کور کې هم مېلمه ته ډېر خوښېږي او د بل پر کور یې هم مېلمستیا ډېره خوښه ده، د خوښې یاران چې ورسره وی ډېر ښه، خوندور او خنده آور مجلس کوي خو چې یاران یې د خوښې نه وي نو بیا تر یو تندی او پټه خوله ناست وي. یاد مې دي یوه ورځ له ګڼو یارانو سره «زیارت» ته تللي وو د صنوبر کاکړ په ډېر عصری هوټل کې مو ورځ تېره کړه او د غرمې ډېره مکلفه ډوډۍ مو وخوړه خو صنوبر پیسې له ټینګار سره سره وانه خیستلې بلکه ټوله ورځ یې له موږ سره تېره کړه، خپل کار یې پرېښود او د سیال صاحب خوږو خبرو ته یې غوږ نیولی و، تر دې چې حاضر شو په همهغه ورځ د پښتو په لیک لوست پیل و کړي او دسیال صاحب نه یې د پښتو د ځانګړو غږونو توري په همهغه مجلس کې زده کړل .
سیال صاحب شاعر دی خو شاعرانه بوالهوسۍ نه لري او له خپلو ښکلو ماشومانو پرته نه د ګلو مینه کوي او نه دښکلو! البته خپل شعرونه ډېر پرې ګران دي او په پخوا وختونو کې به یې په خپلو تحقیقي او فولکلوري آثارو کې هم ځای پرخای خپل فردونه او شاه فردونه ځایول او د کتاب تش ځایونه به یې پرې ډکول خو د یوه او بل تر انتقادونو وروسته یې دا کار پرې ایښی او اوس خپل شعرونه یوازې د خپل شعر په کتابونو کې راوړي .
د سیال صاحب غاښونه خپل نه دي او مصنوعی یې جوړ کړي خو په شونډو یې خوره موسکا او ورسره یې نرۍ خندا خپل طبیعي عادت دی چې دده د ژورې مینې او خلوص ښکارندویي او څرګندویي کوي. که څه هم سر یې سپین شوی خو د ځوانۍ د وخت او د تورو ویښتانو عکسونه چاپوي خو دا بیله خبره ده چې زړه یې له هماغه اول نه همداسې سپین ؤ لکه اوس یې چې ویښته سپین شوي دي .
خبرې ډېرې دي خو وخت لږ دی زه به کومه کومه کوم، په پای کې ګران سیال کاکړ ته اوږد او مثمر ژوند غواړم او له تاسو نه اجازت اخلم !

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ